په تاريخ او پښتو ادب کي يو نوی تحقيق :

# د افغانستان يو نومورکې شاهي کورنۍ
# او د دوی په عصر کي پښتو

ښاغلي لوستونکي به د پټي خزانې او د پښتو ادبياتو تاريخ دوهم ټوك په لوستنه د ملتان د لوديانو شاهي کورنۍ پېژني، دوی تر غزنويانو پخوا په ملتان کي سلطنت کاوه او موږ ته يې د پښتو په ادبي تاريخ کي خورا ګرانبها پاڼکي را پرېښي دي.

داسي ښکاري چي پښتو ژبه په دغو زمانو کي د پښتنو د محلي پاچهانو په دربار کي وه، مثلاً په دغه زمان کي چي د هجري کلو لومړۍ او دوهمه او دريمه پېړۍ وه، موږ د پښتو ادب څرك غالباً د غور او بادغيس د امير کروړ سوري په دربار کي وينو، او د منځنۍ پښتونخوا په غزني اوګردېز کي د لويکانو د شاهي کورنۍ له بزمه هم د پښتو ږغ اورېده کيږي. څو چي په ملتان کي د لوديانو شاهي کورنۍ موږ ته د پښتو قديم آثار او نخښي راپرېږدي.

نو د هجرت په لومړيو درو پېړيو کي موږ له بادغيسه تر ملتانه په لويه پښتونخوا کي هر ځای د پښتو اثرونه وينو، چي ما دمخه د ملتان او د غور د سوريانو پر پښتو باندي ډېري ليکني کړي او په کتابو او مجلو کي مي خپري کړي دي او ښايي چي د پښتو ادب پلټونکي يې په پټه خزانه او د پښتو ادب په تاريخ دوهم ټوك او نورو مقالاتو کي په تفصيل ولولي.

اما ښايي چي ښاغلي لوستونکي به د غزني د لويکانو نوم لومړی پلا اروي ځکه چي تر اوسه نه په تاريخ کي د دې کورنۍ کوم مرتب اوګټور تفصيل سته او نه چا دوی پېژندلي دي، چي د اسلام په اوايلو کي په غزني کې پاچهي لرله.

د لويکانو کورنۍ :

هغه وخت چي د اسلامي لښکرو فتوحات افغانستان ته راورسېده دلته دکوشانيانو اوکابلشاهانو بقايا په هره خوا کي پاته وه، د غرجستان شاران، د باميان شيران، د زابلستان رتبيلان، دکابل کابلشاهان او نور ډېر شاهان په هره خوا کي وه چي د عربو مورخان يې هم نومونه اخلي. خو يوه کورنۍ په غزني اوګردېز کي هم موجوده وه چي متاسفانه د تاريخ په پاڼو کي موږ ډېر لږ څه وينو، او مورخان يې نه پخوا او نه اوس پېژني.

په ځينو تاريخي کتابو کي لکه دګردېزي زين الاخبار يا د نظام الملك سياست نامه يا د جوزجاني منهاج سراج طبقات ناصري او نورو کي موږ کله کله د لاويك يا انوك يا لويل؟ په شکل د ځينو اميرانو نومونه وينو چي د کابلشاهانو او رتبېلانو معاصرين وه او د صفاريانو او غزنويانو په زمانو کي هم د دوی بقايا موجود وه ، اول خو دوی شاهان وه مګر وروسته په ګردېز کي د محلي اميرانو په ډول اوسېده، او د غزني په دربار کې بيا د سفارت مهم او درانه وظايف لرل.

له تاريخي پلټنو څخه چي ما د دې کورنۍ په باب کي کړي دي داسي ښکاري چي د دوی اصلي او

صحیح نوم لویکان و، یعني د دوی کورنۍ لویکان بلل کېده او هر فرد یې د لویك لقب درلود او په خطي نسخو کي دغه اصیل او پښتو نوم په مختلفو املاوو واوښت، او خپل تاریخي اصالت یې ورك کی.

د لویکانو دغه کورنۍ د زابلستان د رتبېلانو سره خپلوي لري، او لکه د رتبېل نوم چي پښتو دئ دغسي د دوی نوم هم د پښتو لوی څخه جوړ سوی دئ.

لومړی لویك :

دوی پخوا خپل محلي دین درلود، چي د خپل لومړي لویك بت به یې په یوه پرستشگاه کي ایښود او د هغه پرستش به یې کاوه. دغسي یو بدتون د اسلامي عهد تر اوایلو پوري د غزني د بامیانو دروازې سره موجود و، چي هلته د مشر لویك وجویر یوه مجسمه د پرستش له پاره پرته وه او چي مسلمانان راغلل نو د دغي کورنۍ شاهانو اسلام ومانه او دغه بتخانه هم په اسلامي مزگت یعني مسجد بدله سوه.

دا وجویر لویك هغه سړی دئ چي د غزني هجویر یا وجیر د ده په نامه تر اوسه هم وجرستان یادېږي، او د لاهور د اتاگنج بخش علي هجویري غزنوي د کشف المحجوب لیکوال مشهور صوفي او عارف هم دغه ځای ته منسوب و.

د نامه تحلیل :

اما د دې پاچهانو د کورنۍ نوم لویك د پښتو له لوی څخه جوړ سوی دئ، لوی د مادي یا معنوي عظیم په معنی په پښتو کي سته، وایو د کلي لویانو او مشرانو جرگه وکړه. چي دلته معنوي لوی مقصد دئ، یعني سردار او مشر، کریمداد وایي :

پر غــــــــریبو چي تېری کا
لوی دي نشي هسي لوی

چي دلته هم لومړی لوی مادي لوی، او دوهم معنوی دئ. د پښتو اعلامو او تاریخي نومونو یوه عامه قاعده ده، چي د نومو په پای کي یو (ك) زیاتي کاوه، دا کاف د تعظیم او تجلیل له پاره و نه د تصغیر له پاره، مولانا بلخي وایي :

کاف رحمت گفتنش تصغیر نیست
جد چو گوید طفلك تحقیر نیست

زمرك، ببرك، بارك، هوتك، شیتك، اڅك، ختك، تورك، خیرك، د پښتنو دغسي مجلل نومونه دي او په تاریخ کي هم موږ د قدیمو شاهانو په القابو کي د هند پاچا فورا و فورك او نور شاهان خدای او خدایك او غوزك او نیزك وینو. چي په تاریخ بیهقي او تاریخ الیعقوبي او ابن خردازبه او نورو پخوانو کتابو کي ذکر کیږي.

ابوالفرج روني د غزني د یوه پاچا په مدح کي وایي :

ادرار تو خورده خان وقیصر
مامورتو بوده رای و فورك

هم پر دغه اساس د لوی په پای کي د تجلیل کاف اضافه او لویك سو. مگر په پښتو لهجو کي د لوی تلفظ اختلاف لري، لوای یا لاوي یا لوی ویل کیږي، ځکه نو د لویك املا هم کله لاویك یا لویك رانقل سوې ده.

اته تنه لویکان :

لکه دمخه چي مي وویل : د لویکانو کورنۍ زموږ په تاریخ کي نومورکي ده، مگر د تاریخ په پاڼو کي لږ لږ

ځرك ايستل کيږي. د تاريخي اسنادو په رڼا کي تر اوسه زه له دغي کورنۍ څخه دغه کسان پېژنم :

١. لويك وجوير : چي د کابلشاهانو او رتبيلانو معاصر او خپل و، د (١٢٠هـ) کال حدود. د ده يوه مجسمه د غزني د باميان دروازې په بودتون کي پرته وه، خو چي مسلمانان راغلل، د ده زوی يو وار مسلمان او بيا بيرته مرتد سو. د ده په وخت کي د (١٦٣هـ) حدود هغه بودتون په اسلامي مسجد بدل سو او ده د خپل پلار بت هلته ښخ کی.

٢. د وجوير زوی خانان يا د ګرديزي مورخ د زين الاخبار د قلمي نسخو په املا خاقان و، چي لومړی پلا مسلمان سو د (١٦١هـ) حدود.

٣. محمد د خاقان زوی د (٢١٠هـ) کال په حدودو کي.

٤. د محمد زوی ابو منصور افلح چي د زين الاخبار په روايت په (٢٥٦هـ) کال په ګرديز کي د يعقوب ليث صفاري له خوا مات کړ سو.

٥. د ګرديزي په روايت د افلح زوی منصور د (٣٠٠هـ) په حدودو کي.

٦. ابو سهل مرسل د منصور زوی : دا سړی د سلطان محمود او سلطان مسعود معاصر و، په (٤٢١ هـ) کال چي سلطان محمود مړ سو، نو د ګرديزي په قول دغه مرسل د منصور بن افلح ګرديزي زوی د خليفه القادر بالله له خوا له بغداده سلطان مسعود ته د خلافت له درباره خلعتونه او مکتوبونه راوړل او دا مرسل لويکی چي د ګرديز و، د غزني د دربار له خوا د بغداد په دربار کي د رسالت او سفارت دنده لرله.

٧. بل سړی د مرسل زوی، سهل نومېدی، چي د پلار د ابوسهل له کنيته ظاهراً دغه ښکاري، مګر په تاريخ کې ما ذکر نه دئ ليدلی.

٨. بل سړی له دې خاندانه ابو علي يا ابوبکر لاويك دئ، چي په طبقات ناصري کې نوم راغلی او په سياست نامه کې فقط ذکر سوی دئ. دا سړی د کابلشاه خسر و، چي په (٣٦٥هـ) کال يې د لوګر په ځرخ کي د سبکتګين له لاسه ماتې وکړه او داسي ښکاري چي مسلمان و. خو د ده د پلار نوم نه دئ معلوم اما د لويکانو له خاندانه څخه و.

د لويکانو د عصر يو پښتو بيت :

په ١٩٥٨ م کال ما ته د پښتونستان د ډېره اسماعيل خان له بلوڅانو څخه يو فارسي کتاب ګوټی لاسو ته راغی، چي سر او پای يې نه درلود، فقط ٣٣ پاڼې يې پاته وې. دا کتاب د اولياوو د تذکرې په ډول د شيخ سخي سرور د کراماتو حکايتونه وه چي د انشاء له سبکه يې ما دا تخمين کاوه چي د (٦٠٠هـ) کال په شاوخوا کي به ليکل سوی وي. د دې کتاب ګوټي نور حکايات له تاريخي پلوه دوني مهم نه وه، مګر يو حکايت يې ډېر مفيد او ګټور و. په دې حکايت کي وايي چي کابلان شاه خنچل په لسان خلجيه د لويك له خوا يو بيت لويك خانان ته واستاوه او کابلان شاه خنچل د تاريخ اليعقوبي په استناد (دريم جلد ١٣١ مخ) مور پېژنو چي د المهدي عباسي خليفه معاصر و، او په (١٦٣هـ) کال د هغه خليفه له خوا ده ته اسلامي سفيران راغلي او د اسلامي دعوت له پاره را استول سوي وه.

اما د لسان خلجيه څخه ښکاري چي دغه لويکان به غلجيان وه او د دوی ژبه هم پښتو وه. اوس کټ مټ هغه حکايت په فارسي ژبه واروئ چي د املاوي غلطيو په سبب يې ما په لوستنه او پوهېدنه کي يو کال فکر کړی دئ، او د پښتو الفاظو تحليل او پوهېدل خو يې ډېر مشکل کار و، او تر اوسه يې هم يوه کلمه غير مفهومه پاته ده، حکايت داسي دئ :

"ابو حامد الزاولی را در تاريخ غزنه از حسن صغانی روايت است که در بلدهٔ غزنه، بر درب باميان،

مسجدیست، که آنرا مزگت افلح لویك خواندندی و این بتخانه عظیم بوده، که وجویر لویك بر خدمت رتبیل و کابلشاه کرده بود، چون پسرش خانان به مسلحی آمد، صنم لویك را نیارست شکستن، و آنرا دران مزگت بزمین اندرکرد، و بتابوت سیمیه در نهاد.

کابلان شاه خنچل این بیت فرستاده بلسان خلجیه، که لویك گفت :

"په زمی گزنه ښخېد لویك لـــــویانو بویلا لویا

کښه تور به براغلوم بلوم (؟) محله تیزیویه ملا"

په دې حکایت کې د حسن صغاني او شیخ سخي سرور نومونه یادېږي، چې دواړه مشهور خلك دي، او موږ یې په تاریخ کې پېژنو. د لاهوري مفتي په قول په خزینۀ الاصفیاء کې دغه سخي سرور په شاه کوټ کې (۵۷۷هـ) شهید سوی و، چې بابر یې هم د مزار ذکر په خپل تزك کې کوي، دی پس له علي هجویري غزنوي څخه د هند په مځکه کې د اسلام په دعوت مشهور و، او خلکو سلطان باله او تر اوسه هم د جالندهر په هندوانو کې یوه خاصره فرقه، ځانونه سلطاني ته منسوب گڼي[۱].

اما حسن صغاني هم د غزني او هند مشهور عالم و، چې په (۵۷۷هـ) په لاهور کې زیږېدلی او په (٦٥٠ هـ) په بغداد کې وفات سو، دی د عربي ادب او لغت لوی امام دئ او تالیفونه یې په عراق او مصر او حجاز کې مشهور وه[۲].

د حکایت له وجناتو څخه ښکاري، چې ابو حامد زاولي به خپل تاریخ غزنه پس له (٦٠٠هـ) په هند کې لیکلی و، خو دا کتاب اوس ورك دئ، او موږ یې هیڅ ځای څرك نه لرو.

د دغه بیت تحلیل :

د سلطان سخي سرور د کراماتو په کتابگوتې کې د لویکانو یو بیت په لسان خلجیه لیکل سوی دئ. د هند خلجیان خو دغه زموږ غلجیان او پښتانه وه چې هلته یې په پېړیو سلطنتونه کړي دي. ځکه چې دوی په هند کې پخپل قومیت خلجي مشهور وه او د غزني از زابل له سیمو څخه تللي وه، نو د دوی ژبه هم لسان خلجیه بللې سوې ده.

دغه بیت په اصلي نسخه کې په داسي املا لیکلی و، چې ما ته پس له یوه کال تفکره دا ښکاره سوه چې کلمات یې پښتو دي، مثلاً : په اصل کې دغه بیت داسي لوستل کېږي :

بزم کزن سحید لویك لوی انوبویلا لویا

کسه تر به براغلو م بلوم محلاتیزیو بملا

مگر د بیت صحیح قرائت باید داسي وي :

په زمی گزنه ښــــــخېد لویك لـویانو بویلا لویا

کښه تور به براغلوم  بلوم (؟) محله تیرویو په ملا

د دې بیت ځیني کلمات له پهلوي او سغدي او دري فارسي سره ډېر ورته دي. مثلاً زمی په دري ادب کې وه چې پهلوي شکل یې زمیك دئ چې په پښتو کې هم زمی او زمکه سته.

بله کلمه گزن اصلاً گزنه د غزني قدیم نوم دئ چې معنی یې خزانه ده او د پهلوي او سغدي گزنگ = گنزه هم له دغي ریښې څخه دي او د جوالیقي په قول د عربي کنز هم له دغي ریښې څخه معرب دئ او په پخوانۍ پښتو کې هم و، چې د سنسکریت جگن یا کجن یې خوندي دئ او چیني هیون تسنگ دغه گزنه = هو - سي - نه ضبط کړی دئ.

سحید هم اصلاً ښخېد دئ چي د ښخېدل له مصدره یوه قدیمه غایبه معرده صیغه ده چي اوس یې موږ پر ځای ښخ سو وایو، مګر دغه (اید) په هروي لهجه کي هم د غایب له پاره و، او دا صیغه موږ ته راښیي چي پښتو ګرامر پخوا دغه ترکیبي مصادر نه لرل او پر اصالت باندي متکي وه.

د لویانو د کلمې املا په اصل کي لوی انو ده، خو دا کلمه لویانو لوستلای سوای، چي د لویك فامیلي نوم هم له دغه څخه راوتلی دئ. بویلا د بایله قدیم لهجوي شکل دئ او لویا هم دغه لوی یو پخوانی اسمي حالت دئ، لکه ښکلا، زرغا، ځغلا، ژړا، خندا، زلما.

کسه د پښتو تاریخ کلمه کښه تور دئ، چي د سنسکریت او فرس قدیم له کشتریه سره د ریښې اشتراك لري او په خیرالبیان کي په مقلوب ډول تورکښ راغلی دئ. معنی یې توري کښونکی او شمشېر زن او دلاور او سپاهي ده.

براغلوم د راغلول له مصدره له دري : بر آغالیدن سره ریښه لري یعني شکارل او پاڅول. دغسي ملا د رفاقت او ملګری په معنی او تیزیو د تازي یعني عربي په معنی د پښتو لهجوي تغییر دئ. خو په دغه بیت کي (بلوم) کلمه ناحله او مبهمه پاته ده.

خو موږ له دغه حکایت او دغه بیته په تاریخ او ادب کي دا نتایج لاس ته راولو چي لویکان د غزني او قدیم ګزنه یوه شاهي کورنۍ وه چي د دوی د کورنۍ نوم له پښتو لوی څخه د پښتنو د اعلامو پر عاقده برابر لویك جوړ سو، او لرغونی لویك د (۱۲۰هـ) په حدودو کي وجویر یا هجویر نومېد، چي دغه اوسنی وجیرستان د ده په نامه یادېږي.

د دې لویکان ژبه لسان خلجیه بلله سوې، او ښایي چي دوی هم له غلجو څخه وه، دوی د خپلو اسلافو د بتانو پرستش کاوه او په کلو کلو یې له اسلامي فاتحانو او صفاریانو او غزنویانو سره ډغري وهلې، څو چي د سبکتګین په لاس په (۳٦۵هـ) کال منحل سوه.

د دوی ژبه په لهجوي سیستم کي اوسنیو وردګو او وزیرو مسیدو ته ورته وه او په کلماتو کې پهلوي او سغدي او دري ته قرابت لاره.

په پښتو ادب کي دغه بیت د امیرکروړ سوري د پښتو وینا همزولی دئ، مګر په دې بیت کي د پهلوي او دري الفاظو اغېز د امیرکروړ تر شعر ښه ښکاري او دا ثابتوي چي د غور د غرو پښتو د نورو له تېڅیره محفوظه وه، او د ښارو پښتو لکه اوس له خپلو خوندو ژبو او لهجو سره ګډه سوې وه لکه چي اثرونه او اغېزي یې موږ اوس د بغلان او روزګان پر ډېرلیکو باندي وینو.

غزني او زابلستان د فارس او ماوراء النهر له خوا د هندوستان لار وه، هر وخت به لویي تجارتي او ثقافتي قافلې له هنده د زابلستان پر لارو سیستان او فارس او شمالاً به ماوراءالنهر ته تېرېدې. نو دلته یو ثقافتي امتزاج پیدا کېدئ، او په دغه کلتوري ګډون کي ژبنی اغېزې هم یو طبیعي کار دئ.

د سغدي او پهلوي او دري فارسي کلمات او لغات د زابلستان د هغه وختنۍ پښتو سره ډېر اختلاط لري، چي یوه نمونه یې دغه د لویکانو دوې مسرۍ دي.

د پښتو د کلماتو اعلامو اشتراك او موجودیت د بغلان او روزګان په ډېرلیکو کي دا ثابتوي چي پښتو څه نه څه د میلادي سن په لومړنیو پېړیو کي موجوده وه مګر ښایي چي شکل به یې دغسي نه و لکه اوس.

څکه د میلادي شپږمي او اوومي پېړۍ د پښتو چي کومي بولګې موږ ته ښکاره دي، داسي راته څرګندوي چي د ښارو او سمو پښتو ډېر تراش خوړلې او خورا مهذبه او پسته سوېده، مګر د لرغونۍ پښتو د صوت او ادا او تلفظ نمایندګي که کوي اوس به دوزیرو، او مسیدو یا وردګو د غرو پښتو ورنژدې وي[۳].

لمن لیکونه :

١. وګورئ : د جالندهر د ضلع ګزیتهیر د هند طبع.
٢. وګورئ دسبحه المرجان او تذکرهٔ علماء هند.
٣. وږمه مجله، ١٣٤١ ل کال، دریمه ګڼه، ١- ١٢ مخونه.